**مطبوعاتي اعلاميه**

# د باجوه-عمران رژيم له چين څخه د پور اخيستو په بدل کې د اېغوري مسلمانانو پر ناوړه حالت سترګې پټوي او خپل اخرت پلوري

د چين دولت تر ۴۰۰ ډېرو افشا شوو اسنادو وښوده، چې په کمپونو کې د بندي کولو له لارې د مسلمانانو اړ کول چې اسلام پرېږدي، د دغه دولت رسمي پالیسي ده. د چين ولسمشر شي جين پېنګ په ۲۰۱۴م کال کې پخپله د دغه ناوړه چلند، سختګيرۍ او وحشت امر وکړ. په ګڼو رپوټونو کې اټکل شوی چې په چين کې له يوه تر دريو ميليونو مسلمانان په توقيف‌خونو کې ساتل کېږي.

د دغو سختګيريو او ناوړه چلند ډېروالی له دې څخه واضح ښکاري چې چينايي چارواکي په منظم ډول د بندي شوو مسلمانانو کورونو ته ځي او د دوی د باعزته مېرمنو او کورونو حرمت تر پښو لاندې کوي. په چين کې له تېرو څو کلونو راهيسې ږيرې په زور خرېيل کېږي، مېرمنې د اسلامي جامو اغوستو ته نه پرېښودل کېږي، پر روژه نيولو بنديز دی او د جوماتونو امامان نڅا ته اړ ايستل کېږي. داسې معلوميږي چې د باجوه-عمران رژيم خپل ايمان د چين پر ملحد دولت د پور او پانګونې په بدل کې خرڅ کړی دی، ځکه دغه دولت په اشغال شوي شرقي ترکستان (اېغور) کې پر مسلمانانو د چينايي دولت د روان ظلم او وحشت پر وړاندې په خورا بې شرمۍ سره غلی دی.

نن ورځ مسلمانان د خلافت د نشتون له امله د بې سرپرسته يتيم په څېر دي. د فلسطين، ميانمار (برما) چيچينيا او اشغال شوي شرقي ترکستان د مسلمانانو د چيغو اورېدلو او ساتنې څوک نشته. چين همداراز د کشمير يوه برخه هم لاندې کړې ده. د اسلامي دولت په وخت کې ټول مظلوم مسلمانان خوندي وو او پر دوی د کېدونکي ظلم بدل اخيستل کېده. اسلامي دولت د بنو قيانقه ټوله قبيله يوازې په دې ګناه له مدينې وشړله، چې د يوې مسلمانې ښځې سپکاوی يې کړی و او بې ستره کړې يې وه. اسلامي دولت د محمد بن قاسم په مشرۍ يو لوی لښکر د هغې مسلمانې خور د غږ اورېدو لپاره ولېږه، چې د هندي واکمن راجه داهير (پخوانی مودي) لخوا نيول شوې وه.

عباسي خليفه معتصم بالله د هغې بې وزلې ښځې د غږ په ځواب کې چې پر خليفه يې کړی و، د زرګونو جنګياليو لښکر د روم پر لور وخوځاوه. رسول الله صلی الله عليه وسلم د مکې له قريشو سره د حديبيې سولې د تړون له لاسليک کولو وروسته هم قريشو ته هغه مسلمانې مېرمنې ونه سپارلې، چې د حديبې تر تړون وروسته يې مدينې

ته هجرت کړی و او قریشو ته یې دا په ډاګه کړه چې ښځې د دوی د ترون برخه نه دي. پاکستاني واکمنان په سیمه کې د امریکایي ګټو پر خوندي کولو سربېره تر چینایي ښکېلاک لاندې هم خپل لاس او پښې وهي.

همدا یې وخت دی چې خپل ځانونه له دغو واکمنانو څخه د داسې یو امام په درلودلو سره خلاص کړو، چې مسلمانان او د هغوی ارزښتونه وساتي. رسول الله صلی الله وسلم فرمایي:

**«إِنَّمَا الإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ»**

(مسلم)

***ژباړه:*** *امام (خلیفه) د مسلمانانو لپاره ډال دی، چې تر شا یې جګړه کېږي او ځانونه پرې ساتل کېږي.*

**حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱هـ ق، د ربیع الاول ۲۴مه**

**۲۰۱۹م کال، د نومبر ۲۱مه**

**ګڼه:۲۴/۱۴۴۱**